مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: عبدالودود بشریار
رالیږونکی: احسان الله ارینزی
۲۰۲۴/۰۴/۱۴

# وردګ او وردګي ګړدود

## میدان وردګ ولایت د تاریخ په اوږدو کې

## وردګ د تاریخ په بهیر کې سیمینار

## یوولسمه مقاله

میدان وردګ د ولایت په توګه:
میدان وردګ ولایت د افغانستان په مرکزي سیمه کې پروت دی. ختیځ ته یې کابل – پروان، جنوب ختیځ ته یې لوګر او لویدیځ ته یې بامیان- غزني ولایتونه پراته دي.
دې ولایت ته د ظاهرشاه په واکپېر ۱۹٦٤ زیږدیز کال کې د ولایت درجه ورکړل شوه. په دې کال کې بادغیس، بغلان، بامیان، غورات (غور)، قلات (زابل)، کاپیسا، کندوز، کونړونه(کونړ)، لغمان، لوګر، نیمروز، روزګان، پکتیا، سمنګان، تالقان سیمې هم ولایتونه وګرځېدل.[1]
د میدان وردګو لومړنی پلازمینه کوټ اشرو وه؛ خو د سردار محمدداود خان په واکپېر کې یې میدانښار د پلاز، مېنه وټاکل شوه. په سر کې د دې ولایت نوم یوازې (وردګ) و خو د ډاکتر نجیب الله د واکمنۍ له نسکورېدو سره یې نوم په (میدان وردګ) واړول شو.
د میدان وردګ ولایت دنامه په اړه اوس هم د وردګو او میدان د ځینو خلکو ترمنځ اختلافات شته دي. ځیني وردګ وايي چي د ولایت نوم دې دېخوا په ځبر یوازې وردګ وي؛ خو میدانیان ټینګار کوي،چي ولایت ته دې(میدان وردګ)وویل شي. دا نوم اوس ډېر مشهور شویدی. پر دې سربېره ځیني وردګ بیا د(میدان وردګ)پر ځای (وردګ میدان) ترڼګ غوره بولي او پردې نامه ټینګار کوي.
د یادوني وړ ده، په هغو تولو اثارو کې چي له۱۹۹۲ زیږدي کال نه وړاندي لیکل شوي(له ځینونه پرته)په هغو کې(میدان) او (وردګ)د جلا، جلا سیمو لپاره کارېدلي دي. خو کله چي (وردګ) کلمه یوازې راغلي نو اطلاق یې پر تول (میدان وردګ) ولایت شوی دی.
په سیاسي- جغرافیوي لحاظ میدان وردګ ولایت، ډېر ارزښت لري. د کابل لویدیځه دروازه ده او د افغانستان د څو مهمو ولایتونو په لار کې پروت دی.
د میدان وردګ ولایت پراختیا(۹۰۲۳) کیلو میتره مربع اټکل شوې او د سمندر له مخ نه (۲۲۲۵) میتره لوړ پروت دی.
میدان وردګ د خپلونو او توکمونو له مخې په درو سیمو (وردګ، میدان او بهسود) وېشل کیږي، چي کومه رسمي بنه نلري. په رسمي ډول له مرکز پرته اته ولسوالی لري(۱۳۹۱). د وردګو په سیمه کې چک، جغتو، سیداباد او جلګه (دایمیرداد) ولسوالی راځي.
په جغتو ولسوالی کې د (جغتو) په نامهٔ یو غر هم شته دی، چي ښايي له همدې امله ولسوالی(جغتو) بلل شوې وي.
د پام وړ ده، چي د جغتو په نامهٔ یوه ولسوالی په غزني کې هم شته ده. همدا شان د منځنی اسیا په قرغزستان هېواد کې هم د جغتو په نامه یو غر شته دی. کیدون لري چي په تاریخي لحاظ د دواړو ترمنځ څه تړاو شته وي.(؟)
جلګه یوه لېرې پرته او د چاړواکو له پامه لوېدلي ولسوالی ده. دې ولسوالی ته هزاره ګان او پارسي ژبي (دایمیرداد) وايي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د میدان په سیمه کې(میدانښار، نرخ، جلرېز) ولسوالۍ راځي.
په بهسودو کې دوه ولسوالۍ پرتې دي. یوې ته یې اول بهسود وايي، دا ولسوالۍ د ولایت لویدیځ ته پرته ده،بلې ته یې مرکزي بهسود وايي او ځیني خلک یې دویم بهسود هم بولي.
د(بهسود) په نامه په ننګرهار کې هم یوه ولسوالۍ شته ده. په پېښور کې د چراټ پر سرك، د پبو سټېشن او جلوزو ترمنځ هم یوې سیمې ته (ډاګ بهسود) ویل کیږي.
وردګ د پښتني ټبر په توګه:
وردګ له آره کرلاني پښتانه ګڼل کېږي؛ خو دوی ځانونه په سیدانو ورګډوي. ځیني وردګ، منګل او ځدراڼ وايي چې دوی په خپلو کې ورونه دي او د کورنۍ شجرې له امله بېل شویدي. د منګلو، ځدرانو او وردګو خپلوۍ د دې ولسي روایت پخلی د منګلو، ځدرانو او وردګو د ګردودونو له پرتلیزې څېړنې هم کیږي.
(د کرلانیو پښتنو د زېږون آرټاټوبی د سلیمان غره، د برمل غر دی، چې له هغه ځایه وروسته خواره شوي او پر اوسنۍ سیمه مېشت شویدي.)[2]
ځیني وردګ په کونړ، هرات ، هېلمند، زابل، غزني، بلخ، ننګرهار، بغلان، کندوز، غور( پوزه لیچ) ... کې هم اوسي.
په کونړ کې د وردګو د استوګنې ځایونه، ګوریګا، ګانشال ... دي. ګانشالیان وايي چې دوی له وردګو دغلته تللي او په خټه مایار دي.
همداشان ځیني وردګ په دیر، دانګام...کې هم اوسي. ځینو وردګو په ګورېګا کې په خپل ورتګ شاړې ځمکې ابادې کړې، ځیني یې په پیسو اخېستي او اوس دغلته خپلې ځمکې لري.
په هرات کې مېشت وردګ په انجیل ولسوالۍکې ځانته یو کلی لري، چې د وردګانو محله یې بولي. د هېلمند وردګ په (نادعلي) او (ناوه بارکزي) ولسوالیوکې اوسي.
ځیني وردګ د پاکستان د پنجاب ایالت د پینډۍ په (چچ) او (ټنو) ولسوالیو (ضلعو) کې هم اوسي.
ځینو وردګو په بدخشان، فاریاب، بغلان اوکابل کې خپله ژبه له لاسه ورکړې او پارسیوان شویدي.
په ولسي روایتونو کې وردګ په درو خېلونو: نوري، میرخېل اومایار وېشل کیږي او وايي چې یو خېل د قلم، بل دمشرۍ او بل خېل دتورې او جنګ خلک دي.
دې فوکلوري روایت ته چې سرۍ ګورې د زردښت د وخت آریایي وګړنیز جوړښت ور په یادوي او له هغو سره یې اړیکو ته پام اړوي؛ ځکه (زردښت د زردښتېزم یا اورپرستۍ د دین بنسټوال هم درې زامن درلودل، چې لومړی یې د موبدانو مشر، دویم یې د بزګرانو مشر او دریم یې د جنګیالیو مشر و. د زردښت په امت کې هم دغه درې ډلې خلک: روحاني، بزګران او جنګي موجود ول.)[3]
همداشان له زردښته وړاندې کله چې هندوستان ته آریایان په شاوخوا ۱۸۰۰ مخزیږدي کلونو کې ننوتل اوځايي خلک (دراوړیان) یې پسې واخېستل او دوی یې پر ځای مېشت شول نو له خپلو آریایي فکرونو او باورونو سره سم یې وګړي په درو ډلو: برهمن= برمن ( د عزت خاوندان یا روحانیان)، کشتریان (جنګیالیان) او شودر= سوډر[4] (احمق یا ښکته طبقه) ووېشل. هان، تر اوسه په هندوستان کې دغه طبقاتي نظام دوام لري. همدغسې دآریایي مخینې (سابقې) له امله په پښتنو کې هم د دغه طبقاتي نظام نښې نښانې پاتې دي.
وردګي ګړدود:
په وردګي ګړدود کې،که د ویي لومړی غږ زورکی/**a**/ ولري، نوپه زیر/**e**/ بدلیږي. لکه لاندې:
ظریف خېل= ظېریف خېل
شړشم= شېړشم
لري= لېري
سري= سېري
بدي= بېدي
غوړي= غېړي
وردګ = وېردګ
وردګي ګړدودکي که دويي په منځ کي کوم /ا/ راشي،نو لکه دوزيري ګړدود غوندې په /و/ بدلیږي، لکه لاندې:
کار=کور
پاس= پوس
ولاړ= ولوړ
ابا= ابو
کابل=کوبل
پلار=پلور
کال=کول


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

وردگ /ځ/ په/ څ/ اړوي، لکه لاندې:
ورځې = ورڅې
ځای= څای
ځه=څه
په ځینو ځایو کې/ی/ غورځوي لکه، لاندې:
دوی= دو
هغوی=هغو
د ویي وروستنی بشځینه /ه /په /و/ اړوي، لکه:
به = بو
ته=تو
که=کو
په ځینو وییو کې سپک/و/ په/ې/ بدلیږي، لکه:
پوري=پېرې

وردګي ګړدود او پښتو نږه(خالص) وییونه:
وردګي ګړدود کې ډېر پخواني او سوچه ویي اوړېدل کیږي. د دې وییو ټولول او خوندي کول ډېر اړین دي.که خوندي نشي ښايي چې ډېر یې ورک شي او دا لویه شتمني مو له لاسه ووځي.
دا ویي په نورو ګړدودونو په تېره منګلو، ځدرانو، احمدزیو... کې هم اورېدل کیږي. د وردګي ګړدود د وییو یو څو ساري دا دي:

1. پرېودل: وهل ټکول (ګل خان يې په پنځه تنو ښه وپرېوده.)
2. پارو : راشپیل
3. مکی : پاستی،ګرده نری ډوډی
4. لاسی: نان کنکه،دستی
5. پونده (بلګړ: پنده):چم
6. خت : کمیس،څومره به ښه وای، چې دلاتین ویي (قمیص=کمیسا) پرځای موخپل ژوندی او خوږ ویی(خت) کارولای.
7. جېرګه: هدیره
8. کړک: وړه څانګه. له دې څومره ښه ښکاري چې دکړکی**window** رېښه په کړك کې پټه ده.
9. کړه کی (بلګړ یې: ګره کی، دخره کی په وزن)، چنګک، هغه اله ده چې د ونې څانګې په پرېکیږي.
10. ګونی (دبنی په وزن): بوجی، توړه
11. ایره: ږیره
12. سروپېردی:[5] بالښت
13. بوده(د څارویو شمېر د واحد په توګه): سره (څوبوده مال لري =څو سره مال لري؟)[6]
14. وخه:[7] د سرې یا ښځې ګېډی
15. ګوانده:[8] د خره وری
16. کناخ: کارغۀ، کارګه
17. کیشکره: کیکره، تیتره
18. زی: زوی
19. ترانه: تناره
20. اروېدل: اورېدل (په وردګي ګړودکي اوړون **metathese** هم دپام وړ دی.)

همداشان په دې ګړدودکې نورپېرخواږه غوندونه **phrases**،ګړنې **Idioms**، څرګندنې **expressions** او متلونه شته چې خوندي کول یې اړین برېښي.
لکه:
-(توري ترپې) د(هلي ځلي) په مانا
-(ورپه دروازه)د(**door to door**)په مانا(البته دا ما په میدانښارکي اورېدلی.)
- غوږ په غوږو تویږي،کورت دې خاوري وخوري.(متل- دا مې هم په میدانښار کې اورېدلی.)
- چې سوی هنم، نو هغه لوی هنم.
-کېږ به وښوري خو کرهېږ به ونه ښوري.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

داسي نوره ژبنۍ شتمني شته چي لاتراوسه دپښتوپه يو مهم ګرډودکي پټه ده او د پوهانو لارې څاري، چي کله به يي تولوي، څېړي به يې او له مرګه به يې ژغوري.(پای)

اخځليک:

1. عبدالطيف ياد طالبي، پښتني قبيلې
2. علامه عبدالحی حبيبي، بيلا بيل اثار او ليکني
3. ظفرکاکاخېل، پښتانه د تاريخ په رڼا کې، پېښور، يونيورسټي بک ايجنسی، ۲۰۰۹ز
4. محمداصف صميم،((شمال د پښتنو آرمپشتون))، دعوت ويبپاڼه
5. www.statoids.com (2006)

---

٠ عبدالودود بشريار د شاه محمد زوی او د مولوي غلام محمد لمسی دی چي په ۱۹۸۲م کال د لغمان ولايت، د قرغيو ولسوالی په فرمانخيل کې زېږيدلی.
**عبدالودود خپلي لومړنۍ، منځنۍ او ثانوي زده کړې په پاکستان کې د کډوالۍ په دوران کې په بيلا بيلا پنډغاليو کې بشپړې کړي او د حقوقو او سياسي علومو، اداري او ډيلوماسی پوهنځي کې يې په دې وروستيو کې د لسانس تر کچې زده کړې کړي دي. د دې تر څنګ نوموړي په فلسفه، ادبياتو او ژبپوهنه کې خصوصي مطالعه لري .**
**عبدالودود بشريار په بيلا بيلاو ادارو کې کار کړی. په اسلام اباد کې يې د افغانو کډوالو لپاره د غلام سخي په نامه ليسه جوړه کړې وه. کله چي هيواد ته راستون شو، نو په ميدان وردګو ولايت کې د ولايت مقام مطبوعاتي او کلتوري مسوول شو. په کابل ښاروالۍ کې د ښاري خدمتونو د معينيت مطبوعاتي او کلتوري مشاور او يو ځل د همدغه معينيت سکرتر هم پاتي شوی دی. همداشان د سپوږمۍ انلاين ژورنال مشر ايډيټر، د افغانستان پوسټ خپرونې د امتياز خاوند او مشر ايډيټر، د خوځون علمي پرمختيايي مرکز بنسټوال، د سليم کاروان عالي خصوصي ليسي اجرايوي مشر CEO دندې ترسره کړې دي.**

**نوموړی په پښتو، انګليسي او دري ژبو پوهېږي. تر اوسه پورې يې په شلګونه فلسفي، ژبنۍ، سياسي، تاريخي، فلوکلوري ليکني کړې، چې ځينې چاپ او ځيني ناچاپ دي. نوموړی تر شلو پورې ناچاپ اثار لري چې نومونه يې دا دي: فلسفه، نهه ژبنۍ ليکنې، پخوانيو تمدنونو کې سياسي افکار، پخوانی مصري تمدن، English and Pashto Cognates، پخوانی بين النهرين، جنګ د انسان د وحشت يادګار، څو مفکران چې نړۍ يې بدله کړې او نور .**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ